پوهندوی آصف بهاند
۲۰۱۵/۰۷/۲۵

# هانس کریستیان اندرسن څوک و؟

## (H. C. Andersen)

## (۱۸۰۵ـ ۱۸۷۵)



مشهور ډنمارکی لیکوال هانس کریستین اندرسن د ۱۸۰۵ د اپریل په دویمه د ډنمارک د اودنسې(Odense) په ښار کې زیږیدلی دی او وروسته له اویاوو کلونو ژوند نه، د ۱۸۷۵ کال د اګست په څلورمه د ډنمارک په کوپنهاګن(københaven) کې مړ شوی دی.
https://en.wikipedia.org/wiki/Hans_Christian_Andersen
هانس د ډنمارک او نړۍ د نولسمې پیړۍ له پیژندل شوو او منل شوو لیکوالو څخه شمیرل کیږي. یو شمیر ادبي څیړونکو د ده ژوند په دغو برخو ویشلای دی:

ـ کوچنیوالی،
ـ د ځوانۍ دوران او ستونزې،
ـ ادبي ژوند او آثار،
ـ مړینه.

د هانس کریستیان اندرسن د کورنۍ په باب روایات په بیلابیلو بڼو ثبت شوي دي. نیکه یې په دې باور و چې د دوی کورنۍ د ټولنې له لوړو طبقاتو څخه وه او په اشرافو کې یې شمیرله، خو وروستیو څیړنو دا ادعا رد کړې ده.
کومه بیوګرافي یې چې په کتابونو او انسایکلوپیدا کې ثبت شوې ده، هلته داسې راغلي دي چې پلار یې موچي و، چې نه یې کوم استاد درلود او نه یې هم شتمني، هر څه یې خپله زده کړي وو. پلار یې دیرش کلن و چې مړ شو او


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

یولس کلن هانس یی یوازې پرېښود. ده ته له پلار نه په طبعي ډول بی قراري، لیدل، فکر کول، لوستل او هغه استقامت په میراث پاتې شوی و چې دی یې په پای کې د بریالیتوب لوړو پوړیو ته ور وخېژاوه.
هانس به په کوچنیوالي کې له لرګیو څخه نانځکي جوړولې، خپله به یې تیاتر جوړواه او له همدې نانځکو سره به یې د شکسپیر آثار په خپله له یاده لوبول.
مور یې یوه نالوستې کلیواله ښځه وه چې په کلي کې به یې د خلکو جامې مینځلې، ډېرې ستونزې یې وګاللې، خو د همدې ستونزو په ګاللو سره یې خپل زوی ته د استقامت داسې درس ورکړ چې په راتلونکي ژوند کې هانس د دې له تجربو نه په استفادې سره پر ډېرو ستونزو لاس بری پیدا کړ.
هانس په ډېرې خوارۍ سره په بیلابیلو ځایونو کې فزیکي کارونه وکړل. د خپلې بد رنګې څېرې په خاطر به ډېر ځلې د خپلو ټولګیوالو او همکارانو د خندا او تمسخر وړ ګرځیده چې په پای کې یې د خپل ژوند همدا داستان هم ولیکه او نوم یې ورته«د مرغاوی بد رنګه چوړګوړی» کېښود. په داستان کې کیسه داسې انځور شوې ده چې په کرونده کې کله چې د یوې مرغاوۍ چوړګوړی له هګۍ نه سر پورته کوي، ډېر بد شکله وي، نو ټول مرغان او ځاروي ورپورې خاندي، خو په پای کې له دې چوړګوړي نه داسې یو ښکلی او د لوړ الوت مارغه جوړیږي چې ټول ورته حیران وي.
H.C.ANDERSEN Eventyr' 2' D`en lille havfrue' 1994' Odensa' Denmark' s:177-197
هانس یو تش لاسی ځوارلس کلن تنکی زلمی و چې کوپنهاګن ته لاړ او لکه چارلي چاپلین په لارو کوڅو کې د یوه خندونکي(مسخره) په څېر سندرې ویلې اوپیسې یې تر لاسه کولې، بیا یې تیاتر کې هم د قدم ایښودلو چانس پیدا کړ او د ښه غږ په درلودلو سره آن سلطنتي تیاتر ته هم ورغی.
څو ښونځیو ته لاړ او په پای کې یې د سکندویایي ژبو تر څنګ جرمني او انګلیسي ژبې هم زده کړې. د خپلې مور او خپل پلار د میراث په رڼا او سیوري کې یې د ژوند د ډېرو ترخو او نا خوالو سره له مبارزې وروسته خپله لاره او خپل مسلک وټاکه: لیکل او لیکوالي.
هانس کریستیان لا دیرش کلن و چې شهرت یې تر لاسه کړ او د احترام وړ لیکوال په توګه وپیژندل شو. هغه تر دې وخته پورې یو څه شعرونه، نمایشنامې، یونلیک، داستانونه، او د ټوکو ټولګه خپرې کړې وې.
په ۱۸۳۵ کې یې د کوچنیانو له پاره د څلورو کیسو یوه ټولګه خپره کړه او وروسته له څه لنډې مودې نه یې یو څه نور داستاني آثار هم چاپ کړل او دې لیکلو او خپرولو ته یې لس کاله نور هم دوام ورکړ او دې ته ورته نور داستاني آثار یې خپاره کړل چې له ډنمارک نه باندې د ده د شهرت سبب شول. په دې ډله کې داسې آثار هم وو چې مخکې له دې چې په ډنمارک کې خپاره شي، په انګلستان او جرمني کې د همدې هیوادونو په ژبو وژباړل شول او خپاره شول.
هانس په ډېروهیوادونو کې د کوچنیانو او تنکیو ځوانانو د لیکوال په ډول پیژندل کیږي، خو حقیقت دا دی چې د ده آثار نه یوازې د کوچنیانو او تنکیو ځوانانو له پاره جالب دي، بلکې د مشرانو له پاره هم په زړه پورې دي او داسې یې جذبوي چې د لوستونکو زړه غواړي په پرله پسې ډول یې ولولي او د ده د ژوند او آثارو له لوستلو وروسته هر لوستونکی په دې پوهیږي چې هانس کریستین اندرسن د لوی او واړه له پاره لیکني کړې دي. دی د ټولو خلکو، ټولو نسلونو او ټولو وختونو لیکوال دی.
د هانس ژوند خپله یو اوږد او جالب داستان ته ورته دی. له ده نه چې څومره آثار پاتې دي، د ده فکر او استعداد ښه په کې ځلیدلی دی او دراک لوستونکي کولای شي یوه شي چې څنګه دی د ژوند په زینو کې قدم په قدم او پټه په پټه مخ پر وړاندې تللی دی.
حقیقت دا دی چې د ده هر داستاني اثر د ده د خپل ژوند یو ډول نمایش او ښودل دي، هر اثر یې چې ولوستل شي، د ده د ژوند د پیښې پل په کې موندل کیدای شي. ښایي داسې و ویل شي چې د ده له پاره لیکوالي د ده د ژوند داستان بیانول دي.
کله چې دی وایي:«و،نه و، یو هلک و، چې ډېر بیوزلی و. پرته د تن له جامو نه یې هیڅ نه درلودل او هغه هم نورې ورباندې وړې شوې وې ...» دا توري او جملې په نیغه د ده د ژوند د هغه وخت انځور دی چې دی یو تش لاسی ځوارلس کلن تنکی زلمی و چې له خپل زیږنځای اودنسې نه د کوپنهاګن پر لور روانیږي.
د ده د داستاني آثارو بله ځانګړنه دا ده چې دی کله کله نثر له داسې انځورونو، تشبیهاتو، استعارو او کنایو سره لیکي، لکه شاعران یې چې په شعر کې کاروي. وروسته له څو وارې لوستلو نه یې سړی په ډېر تعجب سره ویلای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

شي: نثر او دومره تشبیهات او انځورونه. د ده له«د سمندر وړه ښاپیرۍ» نومي داستان نه په انځورونو ښکلو ځو جملو ته پاملرنه وکړئ:

« د سمندرونو واکدار کلونه پخوا خپله میرمن له لاسه ورکړې وه، خو شاهي ماڼۍ یې مور اداره کوله. هغه هوښیاره ښځه وه، خو په خپل اشرافي توب باندې له حده ډېره نازیدله، په خپله لکۍ باندې یې دولس صدپونه اینبي وو، په داسي حال کې چې اشرافیانو کولای شول یوازې شپږ صدپونه په خپله لکۍ پورې ونښلوي. سره له دې هم د ستاینې وړ ښځه ځکه وه چې له خپلو وړو لمسیانو، یعني له وړو شهزادګیانو سره یې ډېره مینه کوله. دا شهزادګیاني شپږ وړې ښکلي سمندري ښاپیریاني وې، چې کشرۍ یې تر ټولو ښکلې وه. د خیرې رنګ یې د سرو ګلانو پاڼو ته پاتې کیده. او سترګې یې داسې آبي وې، لکه د سمندر د ژورو اوبو شین والی؛ خو هغې هم لکه د سمندر د نورو اوسیدونکو په څیر پښې نه درلودې او د وجود په پای کې یې د کب په شان یوه لکۍ درلوده.»
H.C.ANDERSEN Eventyr’ 1’ D`en lille havfrue’ 1994’ Odensa’ Denmark’ s:146-147.
هانس پرته له ځو تلپاتې آثارو او ریښتیني شهرت نه بل هیڅ شی نه درلودل او دا آثار او شهرت یې وړیا نه وو تر لاسه کړي. ده دا شهرت د ډېرو کړاونو او رنځونو له ګاللو وروسته تر لاسه کړی و. ډېرې نا امیدۍ او غمونه یې و ګالل، خو دی دومره ماهر هنر مند و چې له همدې نا امیدیو او غمونو نه یې ښکلا رامنځ ته کړه، نه تمامیدونکې ښکلا او دا ښکلا د ده په هر یوه اثر کې لوستونکي لیدلای شي. د همدې له پاره ویلای شو چې هانس کریستین اندرسن د لویې شتمنۍ خاوند انسان دی. د ده شتمني د ده آثار او افکار دي اومیراث یې هغه څه دی چې د خپلو آثارو له لارې یې په ښکلې ژبه خپلو لوستونکو ته ورکوي.
د ده آثار تر اوسه پورې په یوسلو پنځوس(۱۵۰) ژبو ژباړل شوي دي. مخکې له مړینې نه یې یو آهنګ جوړونکي سره د خپل تدفین د مراسمو د موزیک په باب خبرې وکړې. هانس هغه ته داسې ویلي و:
«ډېرې کسان چې زما مړی به بدرګه کوي، کوچنیان به وي. د موسیقي غږ د هغو له کوچنیو قدمونوسره هم آهنګه جوړ کړه.»
ګیورګ بر اندس د هانس له منتقدینو څخه و. یوه ورځ یې له ده نه پوښتنه کړې وه:
«داسې ورځ به وي چې د خپل ژوند داستان دې ولیکې؟»
هانس په ځواب کې ورته ویلي وو:
«ما هغه داستان پخوا لیکلی دی، د هغه نوم«د مرغاوۍ بد رنګه چورګوړی» دی.
H.C.ANDERSEN Eventyr’ 2’ D`en lille havfrue’ 1994’ Odensa’ Denmark’ s:177-197
په ډنمارک کې د هانس کریستین اندرسن د زیږیدو ورځ ته «د کوچنیانود کتاب نړیواله ورځ» نوم ورکړی شوی دی.
د ځو داستاني آثارو نومونه یې دا دي:
ــ د سمندر وړه ښاپیرۍ،
ــ لوی کلاوس او وړوکی کلاوس،
ــ د مرغاوۍ بد رنګه چورګوړی،
ــ د امپراتور نوې جامې
ــ د هومر له مزار نه یو ګل،
ما داسې هوډ کړی چې د ده له آثارو نه په منتخب ډول ځینې داستاني آثار پښتو ته را وژباړم، ځو و کولای شم د نړیوالو ادبیاتو او ډنمارکي ادبیانو یو ځو ښې بیلګې د پښتو ژبې لوستونکو ته هم وړاندې کړم.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ